# لکی مروت: په پولیس سټیشن ترهګریز برید ناکام شوی

لکی مروت کې د صدر پولیس سټیشن باندې د ترهګرې حمله ناکامه شوې ده. پولیسو نه یوازې دا چې برید ناکام کړی بلکې ترهګر یې هم په تیښته مجبور کړي دي.

د تفصیلاتو له مخې ترهګرو د شپې ناوخته د لکی مروت په صدر پولیس سټیشن باندې حمله کړې ده. پولیسو په زړورتیا سره جګړه وکړه او ترهګر یې تېښتې ته اړ کړل. د برید په ځای کې اضافي نفری وغوښتل شول. د ترهګرو په تعقیب کې د پولیسو موبایل له چاودېدونکو سره مخ شو، چې له امله یې 4 تنه پولیس شهیدان شول، په داسې حال کې چې ترهګرو ته د درنې مرګ ژوبلې د اوښتو راپوروونه هم ورکول کیږي.د ترهګرو د موندلو لپاره د لټون عملیات لا هم روان دي.

د روژې په مبارکه میاشت کې د بې ګناه پولیس په نښه کول د تی تی پی ترهګرو او د هغوی د ګمراه مشرتابه ذهني عکاسي ده. د دغو تروریستي بریدونو له امله د امنیتي ادارو مورال لا پسې غښتلی شوی دی.د لکی مروت د زړور خلک د امنیتی ادارو تر څنګ ولاړ دی او انشاالله چې په دغه برید کې ککړ ترهګر به ژر تر ژره ختم کړی شي.